**Pashto**


# کروموزومي مایکرو ارې: د دې ټسټ یا ازمایښت په اړه

**(Chromosomal microarray: About this test)**

کروموزومي مایکرو ارې، چې د مایکرو ارې یا ارې په نامه هم یادیږي، موږ سره مرسته کوي تر څو وښیي چې تاسو یا ستاسو ماشوم کومه روغتیايي یا د زده کړې ستونزه لري، چې ښايي جنټیکي لامل ولري.

## کروموزومونه څه دي؟


**(What are chromosomes?)**



ستاسې د بدن په هره حجره کې جنیټیکي لارښوونې موجودې دي چې بدن ته وايي څنګه وده وکړي او څنګه کار وکړي. جینیټیکي لارښوونې په هغو جوړښتونو کې بسته کیږي چې کروموزومونه نومیږي. تاسو د ډېرو کروموزومونو څخه 2 کاپي لرئ. یوه کاپي له هګۍ څخه راځي او بله له هغه سپرم څخه چې تاسې یې جوړ کړي یاست. ځکه چې کروموزومونه ستاسو جینیټیکي لارښودونه لري، د کروموزومونو بشپړ سیټ د ودې او پرمختګ لپاره مهم دی.

## ارې څه شی ده؟

**(What is an array?)**




ارې یو داسې ټسټ یا ازمایښت دی چې د کروموزومونو ورکې شوې او یا اضافي ټوټې لټوي. د کروموزوم ورکه شوې ټوټه د حذف په نوم یادیږي. د کروموزوم اضافه شوې ټوټه د تکرار په نوم یادیږي. دغه کروموزومي توپیرونه کله نا کله روغتیايي یا د زده کړې ستونزې رامنځته کولی شي.

MyHealth.Alberta.ca

د کروموزومونو توپيرونه د هغه څه له امله نه رامنځته کېږي چې يو شخص يا مور او پلار يې کړي وي يا يې نه وي کړي. ځينې وخت د کروموزوم توپير يو نوی او يا تصادفي بدلون وي چې له مور يا پلار څخه په ميراث را پاتې وي. په نورو حالتونو کې، دا توپيرونه د والدينو څخه ماشوم ته انتقال کيدی شي.

د اريې ټېسټ ترسره کولو لپاره به لابراتوار کې د وينې نمونه واخلي. په Alberta کې، دا ټسټ په وړيا ډول ستاسو لپاره ترسره کېږي يعني لګښت نلري.

د ټېسټ د پايلو راتګ کېداى شي څو مياشتې وخت ونيسي. له خپل روغتيايي خدمت وړاندې کوونکي وپوښتئ چې د پايلو په اړه به څنګه خبر شئ.

## زه کوم ډول پايلې ترلاسه کولی شم؟

**(What type of results could I get?)**

- **مثبته پايله:** مثبته پايله دا معنا لري چې اريې ستاسو يا ستاسو د ماشوم د روغتيا يا زده کړې د ستونزو لپاره يو جينيټيکي لامل پيدا کړی دی. د دغو ستونزو په جينيټيکي لامل پوهيدل کولی شي تاسو او يا ستاسو روغتيايي ټيم ته ګټور معلومات ورکړي. د بيولوژيکي والدينو ټسټ کول کولی شي وښيي چې څنګه دغه حالت په يوه کورنۍ کې لېږدول کيږي.
- **منفي يا غير معلوماتي پايله:** منفي يا غير معلوماتي پايله دا معنا لري چې اريې ستاسو يا ستاسو د ماشوم د روغتيا يا د زده کړې د ستونزو لپاره يو جينيټيکي لامل نه دی موندلی. خو اريې نه شي کولی چې د هر ممکن جينيټيکي حالت لپاره معاينه وکړي. په ځينو حالاتو کې، ستاسو د روغتيا ټيم ممکن د يوه تفصيلي ټسټ وړانديز وکړي.
- **نامعلومه پايله:** نامعلومه پايله دا معنا لري چې اريې يو توپير موندلی خو دا توپير په واضح ډول نه دی څرګند او نه پرې پوهېږي. دغه توپير ممکن د روغتيا يا د زده کړې د ستونزو په اړه وضاحت ورکړي او يا هم ممکن دا وضاحت ورنکړي. ستاسي د روغتيايي ټيم به له تاسي سره د راتلونکو ګامونو په اړه خبرې وکړي څو دا پايله ښه درک کړي. کله نا کله بيولوژيکي والدين يا نور د کورنۍ غړي کولی شي د نورو ټسټونو لپاره د وينې نمونه ورکړي.
- **تصادفي موندنه:** تصادفي موندنه دا معنا لري چې اريې يو جينيټيکي حالت موندلی، خو دا حالت ستاسو د اوسنی ستونزې سره تړاو نلري. دا کيدی شي ځکه چې اريې ستاسو ټول کروموزومونه معاينه کوي. او دا کېدی شي د حيرانتيا سبب شي. که څه هم تصادفي موندنه ستاسو اوسنی روغتيا يا د زده کړې ستونزې نه توضيح کوي، خو دا ممکن ستاسو او ستاسو کورنۍ لپاره طبي ارزښت ولري.

**د 7/24 نرسي سلا مشورو او عمومي روغتيايي معلوماتو لپاره، د 811 Health Link شمېرې سره اړيکه ونيسئ.**

**وروستی بياکتنه شوې:** د نومبر 27, 2023
**ليکوال:** د کلينيکي او مېتابوليک جينيټيکس پروګرام (Clinical and Metabolic Genetics Program)، د Alberta Health Services

دا معلومات د يو وړ او مسلکي روغتيايي کارپوه د مشورې ځای نه شي نيولی. دا مواد يوازې د عمومي معلوماتو لپاره دي او د «لکه څنګه چې دي» او «لکه څنګه چې وړاندې کيږي» پر بنسټ وړاندې شوي دي. که څه هم د معلوماتو د دقت د تاييد لپاره مناسبې هڅې ترسره شوي دي، خو د Alberta Health Services د دغو معلوماتو د دقت، اعتبار، بشپړتيا، د کارونې وړتيا، يا د ځانګړي هدف لپاره د مناسبوالي په اړه هيڅ ډول څرګند، ضمني، يا قانوني ضمانت نه وړاندې کوي. د Alberta Health Services په څرګنده توګه د دغو موادو د کارولو له امله او همدارنګه د هر ډول ادعاوو، اقداماتو، غوښتنو يا دعوو په تړاو چې د دغه کارولو څخه راولاړېږي، له هر ډول مسؤليت څخه ځان مبرا ګڼي.